مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیدعبیدالله نادر

۲۰۲۲/۰۸/۰۳

# درس و تعلیم نه پاتي کيږو

لږ په سرعت واخلي گام
په متـانت واخـــلي گام
چي له قطاره ، وروسته کيږو
درس و تعـــليم نه، پاتي کيږو
مونږ شاگردان د مکتب
واړه بچيـــان د مکتب
تازه گـــلان یو مونږه
په بـــاغ و بڼ ، دادب
ډير اديښمند په خپل حالت يو
مستـــــــقبل ته مو ځوريږو
درس و تعــليم نه پاتی کيږو
بشر سپوږمی خواته ځي
د ترقی خــــــواته ځي
نوی آرمـــان په خاطر
د سو کـــالی خواته ځي
مونږ د غفلت او جهالت څخه
په ځمـــــــکه کي ، ښخيږو
درس و تعلــيم نه پاتي کيږو
د خپل بقـــا په خاطر
ترڅو به وي جنـــگونه
راځئ چـــي وکړو يوار
ددي وطن غــــــمونه
دي اړ و دوړ کــــي دنفاق
علمی دنيا نه وروسته کيږو
درس و تعليم نه پاتي کيږو
هلته نظـــام کي دشمس
بشر خيرنـــــــی کوی
چی کړی معلوم حقيقت
خـــپل گرويږنی کوی
مونږ دمـــاشوم په څير
په خـــــاورو کي لوبيږو
درس و تعليم نه پاتي کيږو
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

دا شعر د طالبانو د واکمنۍ په لمړی ځل کې ویل شوي ، خو فکر کوم چې اوس ډیر ، د دې حالاتو سره سمون خوری، ،ځکه دوي په خپل څه کم یو کال کې ، په ځای د دې چې طالبانو په نورو مهمو موضوعاتو فکر کړی وای، د ټول سوچ په دي هکله وو ، او دی ، چې د جنکو مکتبونه وتړل شي ،ښځې د کار ته پرینښودل شي ، ښځې دي زده کړه ونه کړي، او په کور خوندی وساتل شي، فکر کوم چې دوی باید په داسی یو فرخنده عصر کې په ډیرو لویو او اساسي موضوعاتو باندی فکر وکړي ، مونږ ډیری نیمګړتیاوې لرو ، چې باید په هغې فکر وشي ، او ورباندی کار وشي ،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ